بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سر یال نمبر: 255

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# له پاړه چنار څخه د یوې نوې ډلې خوارج سره د یوځای کیدو ډرامه په ډاګه شوه

کالعدم تي ټي پي په دې وروستیو کښې دروغ وئیلي دي چې د پاړه چنار نه د ترهه ګرۍ مشر دوست محمد له خپلې ډلې سره د خوارج سره یوځاے شوے دے په داسې حال کښې چې حقیقي حقایق په لاندې ډول دي:

- د پاړه چنار د مرجان کالونۍ اوسېدونکی دوست محمد د ملا نور زوي د 2007 کال په کرمه کې د فرقه ییزو فسادونو پر مهال له خپلې کورنۍ سره افغانستان ته تښتېدلی و۔
- دوست محمد د داعش د حاجي داوود له ډلې سره یو ځای شو چې په فرقه ییزو جګړو کې د وژل شویو خپلوانو غچ واخلي۔
- دوست محمد په 2014 کال کې له TTP سره یوځای شو او د افغانستان په پکتیا ولایت کې اوسیږي۔
- دوست محمد په 2017 کال کې پاړه چنار ته د یوه ځانمرګي بریدګر په لیږدولو کې مهم رول لوبولی و، خو هغه یې د ماسټر مائنډ په توګه نه دی پیژندل شوی۔
- دوست محمد همېشه د پاړه چنار د شیعه ګانو پر ضد فعال پاتې شوی او د لشکر جهنګوي له مشر عابد پنجابي سره یې له اوږدې مودې راهیسې اړیکې هم د همدې سلسلې یوه برخه ده۔
- د ځمکې د وروستۍ شخړې په پس منظر کې، دا دروغ ادعا په حقیقت کې په کرما کې د ویرې او ناامنۍ فضا رامینځته کولو یوه ناکامه هڅه ده۔

خارجی نور ولي محسود په دې درواغجنو ادعاوو سره په افغانستان کې د خوارج په شتون اعتراف کوي، نو دا د افغانستان د موقت حکومت مسوولیت دی چې د دوست محمد په څېر ټول خوارج پاکستان ته وسپاري، تر څو دغه فساد له منځه یوړل شي۔